| Number | English | Pashto Meaning |
|---|---|---|
| 1 | Peace be with you. | السلام علیکم. |
| 2 | Hi. Good morning. | سلام  سهار پخیر. |
| 3 | How are you? | څنګه يې؟ |
| 4 | I’m fine. Thanks. | زه ښه یم، مننه. |
| 5 | Nice to meet you.<br>Pleased to meet you. | له لیدلو دې خوښ شوم.<br>په لیدلو دې  خوشاله شوم. |
| 6 | My name is Ahmad. | زما نوم احمد دی. |
| 7 | I’m a student. | زه زده کوونکی یم. |
| 8 | My mother is a teacher. | مور مې ښوونکې ده. |
| 9 | I’m from Afghanistan. | زه د افغانستان یم. |
| 10 | My father is a doctor. | پلار مې ډاکټر دی. |
| 11 | I’m fifteen years old. | زه پنځلس کلن یم. |
| 12 | Qasid and I are good friends. | زه او قاصد ښه ملګري یو. |
| 13 | My hobbies are playing cricket and watching movies. | ذوقي کارونه مې د کرکټ لوبه او د فلمونو لیدل دي. |
| 14 | I’m Afghan. | زه افغان یم. |
| 15 | I live in Ghazni. | زه په غزني کې اوسیږم. |
| 16 | I live with my parents. | له مور او پلار سره مې اوسیږم. |
| 17 | I’m getting late, I should go. | په ما ناوخته کیږي، باید لاړشم. |
| 18 | Would you come tomorrow? | سبا به راشي؟ |
| 19 | No, I don’t think I can. I am sorry. | نه، فکر نکوم، بښنه غواړم. |
| 20 | They are engineers. | دوی انجنیران دي. |
| 21 | Would you like a drink? | د څښلو څه شی غواړي؟ |
| 22 | A dog has four legs. | سپی څلور پښې لري. |
| 23 | He’s a teacher. | هغه یو ښوونکی دی. |
| 24 | He abandoned his car in the snow. | هغه خپل موټر  په واوره کې پریښود. |
| 25 | When the rain started, we abandoned our game. | کله چې باران شروع شو لوبه مو پریښوده. |
| 26 | TV is an abbreviation for television. | تی وي د تلویزیون اختصار/ لنډ شکل دی. |
| 27 | She has the ability to pass the exam, but she must work harder. | هغه د دې توان لري چې په آزموینه کې بریالی شي خو دا باید ډیر کوښښ وکړي. |
| 28 | Will you be able to come to the party? | میلمستیا ته راتلای شي؟ |
| 29 | Is Noor able to swim? | آیا نور لامبو وهلای شي؟ |
| 30 | They thought the boy's behaviour was abnormal | دوی فکر کول چې د هلک سلوک/ چلند نورمال نه دی. |
| 31 | Are all the passengers aboard the ship? | آیا ټول مسافرین په بیړی کې دي؟ |
| 32 | The Americans abolished slavery in 1863. | امریکایانو د غلامۍ رسم په ۱۸۶۳ کال کې لغوه کړ. |
| 33 | The abolition of hunting. | د ښکار لغوه کول. |
| 34 | She’s about 30 years old. | هغه تقریباً دیرش کلنه ده. |
| 35 | There were about 2000 people at the concert. | په کنسرټ کې تقریبا دوه زره خلک وو. |
| 36 | I got there at about two o’clock. | تقریبا دوه بجو ته هلته ورسیدم. |
| 37 | We talked about the problem. | مونږ د ستونزې په اړه خبرې وکړې. |
| 38 | What are you thinking about? | د څه په اړه فکر کوې؟ |
| 39 | The children were running about in the garden. | ماشومانو په بڼ/ باغ کې شاوخوا منډې وهلې. |
| 40 | There were books lying about on the floor. | په غولي شاوخوا کتابونه پراته وو. |
| 41 | Dinner is just about ready. | د ماښام ډوډۍ اوس دستي تیاره ده. |
| 42 | It was late, and there weren’t many people about. | ناوخته وه او په هغه ځای کې ډیر کسان نه وو. |
| 43 | The film is about to start. | فلم شروع کیږي. |
| 44 | I looked up at the sky above. | پورته آسمان ته مې وکتل. |
| 45 | My bedroom is above the kitchen. | د خوب خونه مې د پخلنځي د پاسه ده. |
| 46 | He’s handsome and intelligent and, above all, he’s kind. | هغه ښکلی او هوښیار دی او مخصوصا مهربانه/ زړه سواند دی. |
| 47 | My photoes didn’t come out very clearly. | انځورونه مې ډیر ساف نه وو راغلي. |

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Number | English | Pashto Meaning |
|---|---|---|
| 48 | Mum and Dad usually get up about 6 am. | مور او پلار مي معمولاً د سهار۶بجو په شاوخوا کي را پورته کيږي |
| 49 | Is that light switch faulty? | ايا د هغه څراغ سويچ خراب دی؟ |
| 50 | Hasn't microwave oven been repaired yet? | د ويف تنور تر اوسه ندی ترميم/ رغول شوی؟ |
| 51 | How annoying Rashid can be sometimes! | !راشيد کله ناکله سړی څومر خوروي |
| 52 | Have you fed the cat? | پيشو ته دي ډوډی ورکړي ؟ |
| 53 | Please don't interrupt the speaker. | .لطفا د ويناوال خبري مه غوڅوه |
| 54 | Did you enjoy that movie? | له فلم څخه دي خوند واخيستل؟ |
| 55 | Did you hear the news or the weather forecast? | خبرونه دي واوريدل که د هوا وړاندوينه؟ |
| 56 | We didn't dare make a sound. | .د غږ کولو جرائت مو ونکړ |
| 57 | I walked into the sitting room. | .په ناست خونه کي وګرځيدم |
| 58 | She lives abroad. | .هغه په باندني هيواد کي اوسيږي |
| 59 | Are you going abroad this summer? | آيا سږ اوړی بهر ته ځي؟ |
| 60 | An abrupt change of plan | .د پلان/ کړنلارې ناڅاپي بدلون |
| 61 | The conversation ended abruptly. | .محاوره يو ناڅاپه پای ته ورسېده |
| 62 | I am doing Rana's job in her absence. | .زه د رانا کار د هغي په نشتون کي ترسره کوم |
| 63 | He was absent from work yesterday because he was ill. | .پرون کار ته نوو راغلی ځکه چي مريض وو |
| 64 | Grandma is getting more absent-minded as she gets older. | .نيا چي څومره بوډی/ زړه کيږی لاډيره هيرجنه کيږي |
| 65 | I've never played chess before. I'm an absolute beginner. | د شطرنج لوبه مي هيڅکله مخکی نده کړي. مطلق يو پيل کوونکی يم. |
| 66 | The whole trip was an absolute disaster. | .ټول سفر مطلق يو ناورين/ آفت وو |
| 67 | It's absolutely freezing outside! | .دباندې هوا ډيره يخه ده |
| 68 | You're standing on my toe. | .د پښي په ګوته مي ولاړ يي |
| 69 | Which region are you from? | د کومي سيمي/ منطقي ياستئ؟ |
| 70 | Please don't leave your coats or bags here. | .لطفا کورتی يا کڅوړي مو دلته مه پرېږدئ |
| 71 | Malalai wiped the dust off the tables and chaires. | .ملالی له ميزو او چوکيو څخه دوړي/ ګرخونه پاک کړل |
| 72 | Rain clouds were approaching. | .د باران اوريځي سره نږدي کيدلي |
| 73 | We are planning to review the school curriculum. | .مونږ اراده لرو چي د ښوونځي له درسي برنامو څخه کتنه وکړو |
| 74 | An internet search will give you the answer. | .يو انټرنيټی لټون به ځواب درکړي |
| 75 | The Singapore weather is normally very humid. | .د سينګاپور هوا معمولا ډيره مرطوبه ده |
| 76 | The dry ground absorbed all the rain. | .وچي/ تږي ځمکي ټول باران جذب کړ |
| 77 | The garden is dry from lack of rain. | .باغ د باران له نشتوالي څخه وچ دی |
| 78 | The weather in Ghazni is very dry. | .د غزنی هوا ډيره وچه ده |
| 79 | The hot sun dried the clothes. | . ګرم/ سوځند لمر کالي وچ کړل |
| 80 | I bought an absorbing book last week. | .تيره اونی مي يو په زړه پوري کتاب واخيستل |
| 82 | The guards look absurd in that new uniform. | .ساتونکي په نوي يونيفورم کي ډېر چټي ښکاري |
| 82 | The manager often abuses his power. | .مدير زياتره وخت له خپل قدرت/ زور څخه ناوړه ګټه اخلي |
| 83 | The lorry driver shouted abuse at cyclist. | .د لاری موټروان بايسکل چلونکي ته ښکنځا وکړه |
| 84 | Our academic year begins in septemeber. | .زموږ تعليمي کال په سپټمبر کي شروع کيږي |
| 85 | She put her foot down on the accelerator and overtook the bus. | .هغي په ګړندی کوونکي پښه کېښوده او سرويس موټر يي لاندي کړ |
| 86 | She speakes English with an American accent. | .هغه په امريکايي لهجه په انګليسي خبري کوي |
| 87 | Some people are afraid of snakes. | .ځيني خلک له مارانو ډاريږي |
| 88 | He is afraid to swim. | .هغه له لامبو وهلو ډاريږي |
| 89 | Don't be afraid! | !مه ډاريږه |
| 90 | I'm afraid I've broken your calculator. | .ببښنه غواړم ما ستا د حساب ماشين مات کړی ده |
| 91 | A: The food is very good in that restaurant.<br>B: I agree with you. | .الف: په هغه خوړنځي/ هوټل کي ډېر ښه خواړه دي<br>.ب: درسره منم يي |
| 92 | Martin thinks we should go by train but I don't agree. | د مارتين دا نظر ده چي مونږ بايد په اورګادي کي لاړ شو خو زه يي نه منم . |

| Number | English | Pashto Meaning |
|---|---|---|
| 93 | Ghazni's climate agrees with him. | د غزني هوا پې لګيږي. |
| 94 | Onions don't agree with me. | پياز په ما نه لګيږي. |
| 95 | My father was angry with me when I got home late. | پلار مي راته په غوسه وو کله چي ناوخته کورته لاړم. |
| 96 | Are you angry with me? | آيا راته په غوسه يي؟/ قار دي راته راغلی؟ |
| 97 | He closed the door angrily. | په قهر ي ور بند کړ. |
| 98 | He gave me an angry look. | په قار يي راته وکتل. |
| 99 | The bus always arrives at the corner of my street at 4:00PM | سرويس هروخت زموږ د کوڅي کنج ته په څلور بجي رارسيږي. |
| 100 | What time did you arrive home? | په څو بجو کورته  ورسېدي؟ |
| 101 | They arrived at the station ten minutes late. | دوی تم ځای/ هډي ته لس دقيقی ناوخته ورسيدل. |
| 102 | When will they arrive? | دوی به څه وخت را ورسيږي؟ |
| 103 | The time has arrived for action. | د عمل وخت رارسيدلی ده. |
| 104 | His letter arrived yesterday. | د هغه ليک تيره ورځ را ورسېد. |
| 105 | Spring arrived and turned the world into a paradise. | پسرلی شو نړۍ هم په جنت بدله شوه. |
| 106 | Rashid lent me a book.<br>Dad took a photo of me.<br>I've got an idea. | راشيد ماته يو کتاب پور راکړل.<br>پلار مې زما عکس واخيست.<br>زه يوه مفکوره لرم. |
| 107 | Salim hurt his eye.<br>May I open this window?<br>Please close the door. | سليم خپله سترګه ژوبله/ خوږ کړه.<br>آيا دغه کړکۍ خلاصولای  شم؟<br>لطفا ور بند کړه. |
| 108 | Look at the moon!<br>May I switch on the television?<br>I must phone the doctor. | سپوږمۍ ته وګوره!<br>آيا تلويزيون روښانه کولای شم؟<br>زه بايد ډاکټر ته تليفون وکړم. |
| 109 | There was a terrorist attack on the city. | په ښار باندي ترهګريز بريد وشو. |
| 110 | The army attacked the town. | اردو په ښار باندي بريد وکړ. |
| 111 | The old man was attacked and his money was stolen. | په زاړه سړي بريد شوی وو او پيسي يې ورنه غلا شوي وي. |
| 112 | The bottom of my shoe has a hole in it. | زما د بوټ په بيخ/ تل کي سوری دی. |
| 113 | They live at the bottom of the hill. | دوی د غونډۍ په بيخ کي اوسيږي. |
| 114 | The book was at the bottom of my bag. | کتاب زما د کڅوړي په بيخ کي وو. |
| 115 | The bank is at the bottom of the road. | بانک د سړک په پای/ اخير کي دی. |
| 116 | Put the book on the bottom shelf. | کتاب په ښکته تاخچه کې کيږده. |
| 117 | The clever boy thought of a good idea. | ځيرک هلک د يوي ښي مفکوري فکر وکړ. |
| 118 | The book is cleverly written. | کتاب په ځيرکتيا ليکل شوی . |
| 119 | The cruel man yelled at his sister. | بي رحمه سړي په خپلي خور چيغي ووهلي. |
| 120 | I think it's cruel to keep animals in cages. | زما په نظر په کپسو کي د حيواناتو ساتل ظلم دی. |
| 121 | He was cruelly treated when he was a child. | هغه سره په ماشومتوب کې بی رحمه سلوک شوی وو. |
| 122 | He was very cruel to his wife. | هغه له خپلی ښځي سره ډېر ظالم وو. |
| 123 | Cats usually hate dogs. | عوماً د پيشوګانو له سپيانو څخه کرکه کيږي. |
| 124 | I usually wake up at six. | زه معولاً په شپږ بجي را ويښيږم. |
| 125 | I usually get up at eight. | زه معمولًا د خوب له ځايه په اته بجي راپورته کيږم. |
| 126 | I don't usually eat red meat. | زه معمولاً سره غوښه ( د غوا، وري غوښه ) نه خورم. |
| 127 | I usually go to school by bus. | زه معمولاً ښوونځي ته په سرويس کې ځم. |
| 128 | When do you usually get up? | ته معمولاً په څه وخت کي راپورته کيږئ؟ |
| 129 | Sadiq usually goes to bed at ten. | صادق معمولاً بستر ته په لس بجي ځي. |
| 130 | I usually have a light breakfast. | زه معمولاً په ناري کي کمه ډوډۍ خورم. |
| 131 | I usually take a bath after dinner. | زه معمولاً د شپي ډوډۍ نه وروسته حمام کوم. |
| 132 | What time do you usually go to bed? | ته معمولاً په څو بجو د خوب ځای/ بستر ته ځي؟ |
| 133 | I don't usually have to work on Sundays. | زه معمولاً مجبوره نه يم چي د يکشنبي په ورځو کې کار وکړم. |
| 134 | He finally crossed the finish line after five hours of running. | هغه وروسته له پنځه ساعته منډی وهلو نه د پای کرښي څخه تير شو. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Number | English | Pashto Meaning |
|---|---|---|
| 135 | After a long wait the bus finally arrived. | له زيات ځنډ وروسته اخير سرويس را ورسيد. |
| 136 | And finally, I would like to thank my parents for all their help. | په پاي کې، زه غواړم چې له خپل مور او پلار څخه د دوی د ټولو مرستو  مننه وکړم. |
| 137 | She finally signed the paper. | هغې اخير کاغذ لاسليک کړ. |
| 138 | We must decide finally and now! | موږ بايد په قطعي توګه او همدا اوس پريکړه وکړو. |
| 139 | I hid the money under the bed. | تر بستر لاندې مې پيسې پټې کړې. |
| 140 | Somebody was hiding behind the door. | يوڅوک د وره شاته پټ وو. |
| 141 | He thinks he is somebody. | فکر کوي چې مهم سړی دی. |
| 142 | She tried to hide her feelings. | هغې هڅه کوله چې خپل احساسات بيان/ ښکاره نکړي. |
| 143 | It looks like you're new here. | داسې ښکاري چې تاسې دلته تازه راغلي ياست. |
| 144 | It looks like you don't know what happened. | داسې ښکارې چې تاسې نه ياست خبر چې څه پيښ شوي. |
| 145 | Perhaps she knows the answer. | ګويا/ شايد هغه به په ځواب پوهيږي. |
| 146 | If I had to take a guess, I'd say he's 40. | که وغواړم چې حدس ووهم، وايم چې هغه څلويښت کلن ده. |
| 147 | Maybe he wants to quit his job. | شايد/ امکان لري چې هغه کار پريږدي. |
| 148 | I guess you are over 30 years old. | ګومان کوم چې ستا عمر به له ديرش کلو څخه زيات وي. |
| 149 | It's difficult to say, but I think this is the best English course. | ويل يې سخته دي، خو زه فکر کوم چې دا د انګليسي تر ټولو ښه کورس دی. |
| 150 | I'm not really sure, but I think this is the last morning train. | زه ډېرمتيقن نه يم، خو زما په نظر دا د نن  سهار آخري اورګاډی دی. |
| 151 | Long ago, people hunted with bows and arrows. | پخوا به خلکو په لينده او غشي ښکار کول. |
| 152 | We went hunting every day. | موږ به هره ورځ ښکار ته تللو. |
| 153 | Some animals hunt in packs. | يوشمير ځاروي په ډله ئيزه توګه ښکار کوي. |
| 154 | He is hunting for a job. | هغه د کار په لټه کې دی. / هغه په کار پسې ګرځي. |
| 155 | I'll hunt him down even if he hides under a stone. | که تر ډبرې لاندې هم پټ شي پيدا به يې کړم. |
| 156 | Young lions have to learn to hunt. | د زمري بچيان مجبوره دي چې ښکارکول زده کړي. |
| 157 | I've hunted everywhere for my watch but I can't find it. | په هرځای کې مې ساعت ولټول خو پيدا مې نکړ. |
| 158 | There are a lot of apples in the basket. | په ټوکرۍ کې ډېرې مڼې دي. |
| 159 | We ate a lot. | موږ ډېره ډوډۍ وخوړه./ موږ ډير خوراک وکړ. |
| 160 | She's got a lot of friends. | هغه ډير ملګري لري. |
| 161 | Your flat is a lot bigger than mine. | ستا اپارتمان زما له اپارتمان نه ډير لوی دی. |
| 162 | I go to the cinema a lot. | زه سينما ته ډير ځم. |
| 163 | They arrest and deport illegal aliens. | هغوی غيرقانوني مهاجر نيسي او شړي يې. |
| 164 | The canadian flag has a maple leaf in the middle of it. | د کاناډا بيرغ ملي نښان د ونې پاڼه ده چې د بيرغ په منځ کې ده. |
| 165 | A peach has a stone in the middle. | شفتالو په منځ کې مندکه لري. |
| 166 | The phone rang in the middle of the night. | تليفون په نيمه شپه کې زنګ ووهل./ تليفون ته په نيمه شپه کې زنګ راغئ. |
| 167 | I can't speak to you now – I'm in the middle of cooking dinner | اوس تاسره خبري نشم کولای، زه د ماښام ډوډۍ پخوم. |
| 168 | There are three houses and ours is the middle one. | هلته درې کورونه دي، زموږ منځنی کور دی. |
| 169 | He took an apple from the middle of the box. | هغه د بکس/ صندوق له منځه يوه مڼه واخيسته. |
| 170 | He died in the middle of his youth. | هغه په ځواني کې مړ شو. |
| 171 | I seized her around the middle. | هغه مې په ملا کې ونيوله. |
| 172 | He has broad shoulders, and he's thin in the middle. | هغه پلنې اوږې او نری ملا لري. |
| 173 | I was only a few moments late for the meeting. | زه د غونډې دپاره يو څوشيبې ناوخته شوم. |
| 174 | He thought for a moment before he answered. | هغه مخکې له ځواب ورکولو  يوه شيبه فکر وکړ. |
| 175 | Can you wait a moment? | يوه شيبه صبر کولای شې؟ |
| 176 | She was pleased with the phone call she received. | خوشاله شوه کله چې يې تليفون کې خبرې وکړې. |
| 177 | He wasn't very pleased to see me. | زما په ليدو ډير خوشاله نه وو. |
| 178 | He was glad to see us. | زموږ په ليدو خوشاله شو. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Number | English | Pashto Meaning |
|---|---|---|
| 179 | He promised to return my key by tomorrow. | ژمنه يي وکړه چي تر سبا پوري به بيرته زما کلي را استوي. |
| 180 | She promised to give me the money today. | ژمنه يی وکړه چي نن ورځ به ماته پیسي راکوي. |
| 181 | I promise that I'll come. | ژمنه کوم چي راځم. |
| 182 | Promise me you won't be late! | ژمنه راسره وکړه چي نه به ناوخته کيږي. |
| 183 | He kept his promise. | هغه خپله ژمنه پوره کړه. |
| 184 | You broke your promise – how can I trust you? | تا خپله ژمنه پوره نکړه – څنګه امکان لري چي په تا باور وکړم. |
| 185 | She promised not to lie again. | هغي ژمنه وکړه چي بيا به دروغ نه وايي. |
| 186 | He has promised me lunch today. | نن يي ماته د غرمي د ډوډئ وعده راکړي ده. |
| 187 | I wrote to Sahra but she hasn't replied. | صحرا ته مي خط وليکل خو هغي ځواب ندی راکړی. |
| 188 | Have you had a reply to your letter? | د ليک ځواب دې تر لاسه کړی؟ |
| 189 | What did you say in reply to his question? | د هغه د پوښتني په ځواب کي دي څه وويل؟ |
| 190 | Her reply to me was vague. | د هغي ځواب ماته مبهم وو. |
| 191 | You did not reply to my letter. | تا زما ليک ته ځواب رانکړ. |
| 192 | I did not know what to reply. | زه نه پوهيدم چي څه ځواب ورکړم. |
| 193 | Put on your seat belt in the car to be safe. | په موټر کي د چوکی کمربند تړه د دي لپاره چي خوندي اوسي. |
| 194 | Don't go out alone at night – you won't be safe. | په شپه کي تنها دباندي مه وځه – خطر دی. |
| 195 | Is it safe to swim in this river? | آيا په دغه سيند کي لامبو وهل خو به خطر نلري؟ |
| 196 | Always keep medicines in a safe place. | همېش درمل په خوندي ځای کي ساتئ. |
| 197 | His card trick realy surprised us. | د پتو د لوبي چل يي موږ ډېر اريانه کړو. |
| 198 | The children played a trick on their teacher by hiding her books. | ماشومانو د خپلي ښوونکي کتابونه پټ کړل، په هغي يي ملنډي ووهلي./ هغه يي وغولوله. |
| 199 | He tricked the old lady into giving him all her money. | هغه بوډئ ښځه وغولوله او هغي خپلي ټولي پيسي ورکړي. |
| 200 | Tears trickled down her cheeks. | د اوښکو څاڅکي ي ښکته په غامبورو توی شوي. |
| 201 | Tears trickled from her eyes. | د هغي له سترګو اوښکي توی شوي. |
| 202 | The couple can dance quite well. | جوړه/ ښځه او ميره ډيره ښه نڅا کوي. |
| 203 | You speak English very well. | ته په انګليسي ډيري ښي خبري کوي. |
| 204 | These shoes are very well made. | دا بوټان ډير ښه جوړ شوي. |
| 205 | Shake the bottle well before you open it. | مخکي له خلاصولو بوتل ښه ډير وښوروه. |
| 206 | I don't know Sabir very well. | صابر ډير ښه نه پيژنم. |
| 207 | The motor runs well.<br>The work is going well.<br>Treat them well.<br>I know him well.<br>She is quite well. | موټر ښه کار کوي.<br>کار ښه مخ ته روان دی.<br>له هغوی سره ښه سلوک وکړه.<br>زه هغه ښه پيژنم.<br>هغه بيخی ښه ده./ د هغي صحت ښه ده. |
| 208 | Ridding in the rough water was an adventure. | په ناهمواره اوبو سپرېدل يوه خطره/ ماجرا وه. |
| 209 | She wrote a book about her adventures in Africa. | هغي د خپلو پيښو په اړه په افريقا کي يو کتاب وليکل. |
| 210 | The boy approached his school. | هلک ښوونځي ته نږدې شو. |
| 211 | As you approach the village, you'll see a church on your right. | څنګه چي کلي ته نږدې شي، ښی خوا ته به دي يوه کليسا ووينې. |
| 212 | We were approaching kabul when it started to rain. | موږ کابل ته نږدې کيدلو چي باران شروع شو. |
| 213 | The exams were approaching. | امتحانونه نږدي کيدل. |
| 214 | The time of departure is approaching. | د روانېدو وخت نږدي کيږي. |
| 215 | We must take a new approach to the problem. | موږ بايد دغه مسألي ته له بلي لاري رسيدګي وکړو. |
| 216 | This is a new approach to learning languages. | دا د ژبو زده کولو يوه نوي لاره/طريقه ده. |
| 217 | The baby carefully climbed down the stairs. | ماشوم په احتياط له زينو را ښکته شو. |
| 218 | Please listen carefully. | لطفاً په دقت سره غوږ ونيسئ. |
| 219 | Wahid, take that vase out in our room carefully. | وحيده، هغه ګلدانی زموږ له کوټي څخه په احتياط وباسه. |
| 220 | The scientist mixed the chemicals. | ساينس پوه کيمياوی مادي مخلوط کړي. |
| 221 | Some canned foods contain harmful chemicals. | د ځيني قوطو/ دبلو خواړه مضر کيمياوي مواد لري. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Number | English | Pashto Meaning |
|---|---|---|
| 222 | She has had a comprehensive training in the field of computer. | هغې د کمپیوټر په رشته کې پراخه/ ښه روزنه لیدلې ده. |
| 223 | I expect my students to write concisely. | له زده کوونکو مې تمه لرم چې واضح او مختصر یې ولیکي. |
| 224 | His explanation is not satisfactory. | د هغه تشریح د قناعت وړ نه ده. |
| 225 | The worker bee is neuter. | کارګره مچۍ د جنس له نظره خنثی ده. |
| 226 | The young bulls were castrated so they would grow more meat. | وړوکي غویان خصي شول د دې لپاره چې هغوی ډیره غوښه وکړي. |
| 227 | This man did suicide with a noose. | دغه سړي د رسۍ په کړۍ ( حلقه) ځان وژنه وکړه. |
| 228 | They put a noose around his neck. | هغوی د هغه په غاړه کې د دار حلقه ور واچوله. |
| 229 | She stepped on a nail and hurt her foot. | هغه په میخ باندې وخته او خپله پښه یې خوږ کړه. |
| 230 | The two monarchs met outside the palace. | دوو پاچاهانو له ماڼۍ دباندې ملاقات وکړ. |
| 231 | He was making popcorn on the stove and boiling water for tea. | هغه د جوارو نیني په بخارۍ پخولې او د چای لپاره یې اوبه ایشولې. |
| 232 | They were wrapping pieces of chocolate in colored paper. | هغوی چاکلیټ په رنګه کاغذو کې پیچل. |
| 233 | Too much candy and sweets will ruin your teeth. | ډیر خواږه اوشیریني به دې غاښونه خراب کړي. |
| 234 | The rope broke and Hassan fell down. | رسۍ/ پړۍ پرې شو حسن کښته ولوید. |
| 235 | Do you believe that God created the world? | آیا باور/ایمان لرې چې خدای پاک دا نړۍ پیداکړې؟ |
| 236 | The government plans to create more jobs for young people. | حکومت پلان/ اراده لري چې د ځوانانو لپاره لاډیر کارونه پیدا کړي. |
| 237 | Some factories create smoke. | یو شمیر فابریکې دود/ لوګی منځ ته راوړي/ جوړوي. |
| 238 | His presence created many problems. | د هغه شتون ډیرې ستونزې/ لانجې جوړې کړې. |
| 239 | The evil figure scared us all. | بدې څیرې موږ ټول وډارولو. |
| 240 | His pride caused his destruction. | غرور یې د تباهي لامل شو. |
| 241 | The destruction of the house was necessary because the walls were not strong and people were not safe from falling bricks. | د کور ویجاړول ضروري وه ځکه چې دیوالونه یې ټینګ نه وو او خلک پکښې خوندي نه وو، د خښتو د رالویدلو خطر وو. |
| 242 | The earthquacke caused a lot of destruction. | زلزله د ډیرې ورانۍ لامل شوه. |
| 243 | Fire caused the destruction of several buildings. | اور لګیدنه د څو ودانیو د خرابۍ لامل شوه. |
| 244 | The war will be continued until the total destruction of the enemy. | جنګ به تر هغه وخته ادامه ولري ترڅو چې دښمن په کامله توګه له مینځه نه یې تللی. |
| 245 | Gambling will be their destruction. | قمار به دهغوی د تباهي لامل شي. |
| 246 | Pride is one of the seven deadly sins. | غرور یو له اووه کبیره ګناهونو څخه دی. |
| 247 | Pride did not allow him to borrow money from anyone. | عزت النفس یې اجازه نه ورکوله چې له چا پیسې قرض کړي. |
| 248 | The mother looked at her son with pride. | مور په ویاړ خپل زوی ته وکتل. |
| 249 | It is with pride that I call myself a teacher. | زه په ویاړ خپل ځانته ښوونکی وایم. |
| 250 | We pride ourselves on being Afghan. | موږ په خپل افغانیت ویاړو. |
| 251 | The student did an experiment in science class. | زده کوونکي د ساینس په ټولګي کې یوه علمي تجربه ترسره کړه. |
| 252 | I am going to market in the evening. I’ll reach there as soon as possible. | زه ماښام بازار ته ځم. هلته به ژر تر ژره درورسیږم. |
| 253 | She is dancing on the stage. | هغه په نمایشي صحنه کې رقص کوي. |
| 254 | I am writing a letter. | زه خط لیکم. |
| 255 | Samim is laughing. | صمیم خاندي. |
| 256 | The laday is washing clothes. | دا میرمن کالي مینځي. |
| 257 | The leader is speaking. | مشر خبرې کوي. |
| 258 | Children are playing. | ماشومان لوبې کوي. |
| 259 | They are discussing a problem. | دوی د ستونزې په اړه مباحثه کوي. |
| 260 | We are having our dinner. | موږ د ماښام ډوډۍ خورو. |
| 261 | | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Number | English | Pashto Meaning |
|---|---|---|
| 262 | They have to do experiments to find out if the drug is safe for humans. | دوی باید تجربي/ ازمویښتونه وکړي او معلومات تر لاسه کړي که چیري دا درمل د انسانانو لپاره بي خطره وي. |
| 262 | I don't think it's right to experiment on animals. | زه فکر نه کوم چي دا به سم کار یي چي پر ځارویو باندي یي وازمویو. |
| 263 | One his highest aspiration was to become an astronaut. | د هغه تر ټولو لویه هیله دا وه چي یو فضانورد شي. |
| 264 | I'm the only child of my parents. | زه د مور او پلار یوزانی/ یو زوی یم. |
| 265 | Samira is shopping in a store. | سمیرا په پلورنځي کي سودا اخلي. |
| 266 | Maria is watering the plants. | ماریا نیالګیو ته اوبه ورکوي. |
| 267 | Ruhia is ironing her dress. | روحیه خپل کالي اوتو کوي. |
| 268 | My dear friend! Seems busy. | زما ګرانه ملګري مصروفه ښکاري. |
| 269 | I'm preparing for university's exams. | د پوهنتون د ازموینو لپاره چمتوالی نیسم. |
| 270 | That path leads into the woods. | هغه لاره ځنګل ته تللي. |
| 271 | Is the staff working today? | ایا کاري پرسونل/ کارکوونکي نن ورځ کار کوي. |
| 272 | Are you appearing in the exams this year? | ایا په امتحانو کي سږ کال ګډون کوي؟ |
| 273 | Am I following the right path? | ایا زه په سمه لار روان یم؟ - ایا زه سمه لار تعقیبوم؟ |
| 274 | Is it raining heavily? | ایا زیات باران وریږي؟ |
| 275 | I haven't been camping since I was a little boy. | له کوچنیتوبه را په دیخوا بیا کمپ (هغه ځای چي خیمي موقتا پري ودرول شي، د میله کوونکو د استوګني موقتي ځاي) ته نه یم تللی. |
| 276 | There are 12 boys and 15 girls in my son's class. | له زوی سره مي په ټولګی کی دولس هلکان او پنځلس نجوني دي. |
| 277 | We need more women in government. | موږ په حکومت کي زیاتو ښځو ته اړتیا لرو. |
| 278 | She isn't looking for a husband. | هغه د خاوند/ میړه په لټه کي نده. |
| 279 | I'd better phone my wife and tell her I'll be late. | زه باید خپلي ښځي ته تلفن وکړم او ورته ووایم چي زه ناوخته کیږم. |
| 280 | Has samad met your parents yet? | ایا صمد ستا له والدینو سره تر اوسه لیدلي دي؟ |
| 281 | May I hold the baby in my arms? | ایا دا ماشوم غیږ کي نیولی شم؟ |
| 282 | My grandparents live with us. | زما بابا او نیا موږ سره اوسیږي. |
| 283 | My father has two granddaughters and a grandson. | پلار مي دوه لمسیاني او یو لمسی لري. |
| 284 | Many parents keep their daughters home for fear of kidnapping. | ډیر والدین خپلي لوراني د اختطاف له ډاره کور کي ساتي. |
| 285 | My younger son is a doctor. | زما وړوکی/ کشر زوی ډاکټر دی. |
| 286 | My father taught me to drive. | ماته موټرواني پلار را زده کړه. |
| 287 | Do you have any brothers and sisters? | ورونه او خویندي لري؟ |
| 288 | My brother in law (my sister's husband) is an Afghan Airlines pilot. | زما اوښی د افغان هوایي شرکت پیلوټ دی. |
| 289 | Her brother in law (her husband's brother) is a professor of mathematics. | د هغي لیور د ریا ضي علومو پروفیسر/ استاذ دی. |
| 290 | My brother bought a kite for my niece and nephew. | ورور مي زما وریري او وراره ته کاغذپران واخیستل. |
| 291 | I have a nice niece and a naughty nephew. | زه یوه ښکلي خورزه او یو شوخ خوریي لرم. |
| 292 | My aunt is a loving and kind woman. | زما (ترور، توړی، د کاکا ښځه، د ماما ښځه) یوه مینه ناکه او مهربانه ښځه ده. |
| 293 | I killed the fly with a fly swatter. | په مچشړوني/مچشړ باندي مي مچ مړ کړ. |
| 294 | The police do not know who killed the old man. | پولیس نه پوهیږي چي دا زوړ سړی چا وژلی. |
| 295 | Three people were killed in the accident. | دري نفره په ترافیکي پیښه کي ووژل شول. |
| 296 | I like this city. | زما دا ښار خوښیږي. |
| 297 | She always comes to office early. | دا هر وخت دفتر ته وختي راځي. |
| 298 | They speak two languages. | هغوی په دوو ژبو خبري کوي. |
| 299 | We watch television every evening. | موږ هر ماښام تلویزیون ګورو. |
| 300 | The earth goes around the sun. | ځمکه د لمر په شاوخوا راګرځي. |
| 301 | I don't smoke cigarettes. | زه سګریټ نه څکوم. |
| 302 | Boys never wear jeans here. | هلکان دلته هیڅ پتلون نه اغوندي. |
| 303 | Gilrs always stay in their hostel at night. | نجوني هروخت د شپي لخوا په لیلیه کي پاتي کیږي. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| Number | English | Pashto Meaning |
|---|---|---|
| 304 | I get a hair cut every month. | زه هره میاشت ویښتان اصلاح کوم. |
| 305 | She takes bath everyday. | دا هره ورځ حمام کوي. |
| 306 | We have an appointment on Sunday. | موږ د یکشنبې په ورځ د لیدلو وعده کړې. |
| 307 | They have a meeting every week. | دوی هره اونۍ غونډه لري. |
| 308 | We worship God. | موږ د خدای ج عبادت کوو. |
| 309 | The sun rises early in summer. | په دوبي کې لمر وختي راخیژي. |
| 310 | They were killed in the war. | دوی په جنګ کې مړه شوو. |
| 311 | Rustam killed his own son. | رستم خپل زوی مړ کړ. |
| 312 | This poison kills rats. | دغه زهر موږکان وژني. |
| 313 | My mother works in a laboratory. | مور مې په لابراتوار کې کار کوي. |
| 314 | The little girle enterd the laboratory by mistake. | کوچنۍ نجلۍ سهوا لابراتوار ته ورننوتله. |
| 315 | His jokes always make me laugh. | د هغه ټوکې مې هروخت خندوي./ دده ټوکو ته مې هر وخت خندا راځي. |
| 316 | Her smile turned into a loud laugh. | مسکا یې په لوړه خندا بدله شوه. |
| 317 | They all laughed at me when I said I was afraid of dogs. | هغوی ټول راپسې وخندل کله چې مې وویل زه له سپیانو ډاریږم. |
| 318 | He doesn't wear galsses now. | هغه اوس عینکې نه په سترګو کوي. |
| 319 | We don't obey orders of strangers. | موږ د پردو د اوامر اطاعت نه کوو. |
| 320 | Today is the day my wife does the laundry. | نن ورځ هغه ورځ ده چې زما ښځه کالي مینځي. |
| 321 | Ali shaved off his mustache. | علي بریتونه وخریل/ اصلاح یې کړل/ کوچني یې کړل. |
| 322 | I shave everyday. | زه هره ورځ ږیره خریيم. |
| 323 | She sews her own clothes. | هغه خپل کالي ګنډي. |
| 324 | My mother does laundry every weekend. | زما مور د هرې اونۍ په پای کې کالي مینځي. |
| 325 | Would you please change this hundred dollar bill? | ایا امکان لري چې دا د سلو ډالرو نوټ رامات کړې؟ (د پیسو په پیسو بدلونه) |
| 326 | This is my uncle's house, he owns it. | دا زما د کاکا خپل کور ده. |
| 327 | Ahmad and I are cousins. | احمد او زه د کاکا زامن یو.( د کاکا زوي/ لور، د ماما زوی/ لور، د عمه زوی/ لور، د خاله زوی/ لور) |
| 328 | Isn't this very costly? | دا ډیر ګرانه نده؟ |
| 329 | Am I making a lot of noice? | ایا زه ډیر غالمغال کوم؟ |
| 330 | Does this drug have any side effects? | ایا دغه درمل جانبي اغیزې لري؟ |
| 331 | May I see your identity card? | پیژند پاڼه دې لیدای شم؟ |
| 332 | How much time is remaining? | څومره وخت پاتې دی؟ |
| 333 | He is an old acquaintance of mine. | هغه زما یو زوړ آشنا ده. |
| 334 | My acquaintance with him started two months ago. | زما اشنایي له هغه سره دوه میاشتې مخکې شروع شوه. |
| 335 | Where are they coming from? | هغوی له کوم ځای څخه راځي؟ |
| 336 | I have come to airport to receive my parents. | زه هوایي ډګر ته د مور او پلار د ښه راغلاست/ استقبال لپاره راغلی یم. |
| 337 | A refrigerator is a machine which keeps food cold. | یخچال داسې ماشین دی چې خواړه ساړه ساتي. |
| 338 | Put the milk in the refrigerator so it will stay fresh. | شیدې په یخچال کې کیږده چې تازه پاتې شي. |
| 339 | He is on my side. | هغه زما پر خوا دی. |
| 340 | We are all concerned about his health. | موږ ټول د هغه د روغتیا په اړه اندیښمن یو. |
| 341 | Use that lid to cover that cup, or else dust will enter it. | په هغه پیاله باندې سرپوښ کیږده کنې خاورې/ دوړې به پکې ننوځي. |
| 342 | The man's voice was so loud that we all could hear him. | د هغه سړي غږ ډیر لوړ/هسک وه موږ ټولو اوریدو. |
| 343 | I couldn't hear what he said because the music was too loud. | د هغه غږ مې وانورید چې څه یې وویل ځکه چې د موزیک/ ساز غږ ډیر هسک وه. |
| 344 | Please speak a bit louder – I can't hear you. | لطفا لیږ په لوړ غږ خبرې وکړه – ستا خبری نشم اوریدلای. |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| 345 | I read the story out loud. | .کیسه مي په لوړ غږ ولوسته/ وویله |

| Number | English | Pashto Meaning |
|---|---|---|
| 346 | The weather gets warm during the summer. | .په دوبي کي هوا گرمیږي |
| 347 | He fainted during the race. | .هغه د مسابقي په ترڅ کي ضعف وکړ |
| 348 | I slept until ten a.m. | .د سهار تر لسو بجو مي خوب وکړ |
| 349 | He was here until yesterday. | .هغه تر پرونه دلته وو |
| 350 | I'll wait until you call. | .تر څو چي ته تلیفون کوي زه به انتظار یم |
| 351 | God be with you until we meet again. | .تر بیا ملاقاته/لیدو دي خدای وساته |
| 352 | Are you angry with me? | آیا په ما باندي غوسه یې؟ |
| 353 | His silence made me anxious. | .د هغه چوپتیا اندیښمن کړم |
| 354 | He is confident in his ability to do the job well. | هغه په خپل لیاقت باندي ډاډه ده چي کار په ښه توگه ترسره کولای شي. |
| 355 | Money alone will never make you happy. | .یوازي پیسي تاسو هیڅکله نشي خوشحاله کولای |
| 356 | I am happy to meet you. | .ستاسو له لیدو خوشاله یم./ خوشاله یم چي تاسره ملاقات کوم |
| 357 | I'm still a little confused about what happened. | . زه لا تراوسه د هغه څه په اړه چي پیښ سول لږ وارخطا یم |
| 358 | He was very depressed about losing his job. | .د دندي د لاسه ورکولو په اړه ډیر خوابدی/ غمگین وو |
| 359 | Obviously, I feel very disappointed at not getting the job. | په ښکاره ډول، ډیر د نهیلي/ مایوسي احساس کوم داچي کار نشم پیداکولای. |
| 360 | I felt disgusted with myself for eating so much. | .د زیات خوراک په خاطر مي له ځانه کرکه وشوه |
| 361 | I was too embarrassed to ask him for money. | .ډیر شرمیدلم چي له هغه څخه د پیسو غوښتنه وکړم |
| 362 | Don't embarrass the child infront of the guests! | .د میلمنو له مخي ماشوم مه خجالت کوه |
| 364 | When he saw my new suit, he became envious. | .کله چي هغه زما نوي دریشي ولیده کست یي وشو/ کستمن شو |
| 365 | Are you excited for your trip to Italy? | ایا د ایټالیا سفر ته ډیر هیجاني یې؟ |
| 366 | His criticism irritated me. | .د هغه انتقاد اعصاب را خراب کړل |
| 367 | His death made me very sad. | .مړیني یي ډیر خواشینی/ خوابدی/ غمجن کړم |
| 368 | The loud nice scared the baby. | .لوړ غږ ماشوم وډارول |
| 369 | You can't scare me with such threats! | .په دي گواښنو/ تهدیدو مي نشي ډارولی |
| 370 | She has been sick for the last two months. | .له تیرو دوو میاشتو راهیسي ناروغه ده |
| 371 | She stayed at home caring for her sick husband. | .د خپل ناروغ خاوند د مواظبت لپاره کور کي پاتي شوه |
| 372 | She was still tired and sleepy when he woke her. | .کله چي یی له خوبه راویښه کړه بیاهم ستړي او خوبجنه وه |
| 373 | I'll be surprised if he gets here on time. | .زه به حیرانه شم که هغه پروخت دلته راورسیږي |
| 374 | I am terribly sorry. | .زه ډیره ښښنه غواړم |
| 375 | I look at him and he looks at me. | .زه هغه ته گورم او هغه ماته گوري./ زه دته گورم دی ماته گوري |
| 376 | She looked at us from the corner of her eye. | .هغي د خپلي سترگي له کونجه موږ ته وکتل |
| 377 | The car window is up. | .د موټر کړکی پورته ده |
| 378 | The wheat is up now. | . غنم اوس پورته شوي/ غنمو اوس وده کړي ده |
| 379 | Soldiers scattered in all directions. | .عسکر هري خواته تیت شول |
| 380 | Go straight ahead.<br>Keep straight on.<br>Cross the street. | .سیخ/ نیغ پرمخ لاړشه<br>.مستقیم دوام ورکړه./ سیخ ځه<br>.له سړکه واوړه |
| 381 | He swam across the river. | .هغه د سیند له یوي غاړي تر بلي غاړي لامبو ووهله |
| 382 | Spread the blanket over the child. | .په ماشوم باندي کمپله/ شړی اواره کړه |
| 383 | There is a signboard at the bus stop. | .هلته د سرویس په تم ځای کي لوحه شته |
| 384 | Have you got some money? | یوڅه پیسي لري؟ |
| 385 | This is where ship passengers embark or disembark. | .دا هغه ځای ده چي د کښتي مسافر سپریږي او کښته کیږي |
| 386 | Two of the prisoners were discharged yesterday. | .دوه تنه بندیان تیره ورځ آزاد شوو |
| 387 | Don't move your head. | .سر دي مه ښوروه |
| 388 | He has shaven his head. | .هغه سر خریبلی |
| 389 | A thought suddenly came into my head. | .ناڅاپه مي یو فکر سرته راغلل |
| 390 | Have you had any chest pains? | سیني/ ټټر دي درد کړی؟ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | |
|---|---|---|
| 391 | Camels have long necks. | اوښان اوږدي غاړي لري./ د اوښانو غاړي اوږدي وي. |
| 392 | She injured her shoulder in the accident. | هغي په ترافيکي پيښه کي وږه خوږ کړه. |

| Number | English | Pashto Meaning |
|---|---|---|
| 393 | The three winners had medals placed around their necks. | دريو ګټونکو ميډالونه وګټل او په غاړه يي کړل. |
| 394 | I shave me armpits once a week. | زه په اونی کي يو وار تخرګونه خريیم. |
| 395 | He placed his right elbow on the table. | هغه ښی څنګله په ميز باندي کيښوده. |
| 396 | Everything is in God's hands. | هرڅه د خدای ج په لاس کي دي. |
| 397 | He was holding a cup of coffee in his left hand. | هغه د قهوي پياله په کيڼ/ چپ لاس کي نيولي وه. |
| 398 | He was suffering from pains in his abdomen. | هغه د نس له درده ځوريدل/ کړيدل. |
| 399 | My back hurts. | شا مي درد کوي. |
| 400 | The boat's cargo consisted of wool and wheat. | په کښتی کي وړی او غنم بار وو. |
